د افغانستان اسلامي امارت

**د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت**

**د دفتر عمومي رياست**

د صادري مهر: ۱۴۳۸ نېټه ۱۴۴۷/۴/۱

**ګڼه:** **نېټه:** / / ۱۴۰۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

**د ټولګټو محترم وزارت ته!**

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

**موضوع: د کابل - کندهار او هرات پر لويه لاره د کټوازي ګروپ له لوري د کمپلکس د جوړولو په اړه**

درياست الوزراء اقتصادي معاونيت ته کټوازي ګروپ په خپله عرضپاڼه کې ليکلي چې غواړي د کابل - کندهار او کندهار - هرات د لويې لارې پر اوږدو کې د داسې يو کمپلکس په جوړولو چې د نارينه او ښځينه مسجدونو، سيار امبولانسونو، مجهز کلينيکونو، هوټلونو، رستورانتونو، د تېلو ټانکونو، ورکشاپونو، اې تې اېم ماشينونو، مخابراتي شبکو، تفريحي پارکونو، شنو ساحو او د اړتيا وړ نورو سهولتونو به ولري، پانګونه وکړي.

په دې اساس يې عرضپاڼه او ورسره مل اسناد ستاسې محترم وزارت/ ادارې ته در واستول شول؛ څو يې طرحه و ارزوئ او همدارنګه په پام کې ده، د موضوع اړوند په دې معاونيت کې يوه ناسته هم ترسره شي، هيله ده خپل استازي مو دې معاونيت ته را وپېژنئ، استازي موکولای شي چې د ښې همغږۍ په موخه د دې معاونيت له کارپوه ښاغلي شمس الدين "مسعود" سره چې د اړيکې شمېره يې ۰۷۷۹۰۱۵۱۲۰ ده، په اړيکه کې شي. والسلام

**دېره مننه**

**مولوي عبدالله عزام**

**د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت**

**د مقام د دفتر عمومي رئيس**

کاپي:

د چارو اداري محترم لوی رياست

د کور او ښار جوړولو محترم وزارت

د سوداګرۍ او صنعت محترم وزارت

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د محترم وزارت اړوند(د اراضي لوی رياست)

د اقتصادي چارو محترم رياست

Address: Sedarat Marmarin Palace - Malik Asghar Square - Kabul - Afghanistan پته: صدارت - مرمرينه ماڼۍ - د ملک اصغر څلور لارې - کابل - افغانستان

Contact number: 0202105504 د اړيکې شمېره: 0202105504